**الدرس العاشر** **لسم درس**

**الايمان وأركانه** **ايمان او د ايمان اركان**

ايمان د قول (وينا) عمل اوعقيدى نوم دى چى په نيكو اعمالو سره زياتيږى او په ګناهونو اود الله تعالى په نافرمانۍ سره كميږى، ايمان د زړه او د ژبې وينا ده اود زړه او ژبې او د اندامونو عمل دى ، يعنى د زړه وينا عقيده ساتل دى، تصديق كول دى ، او دژبې وينا اقرار كول دى ، د زړه عمل تسليميدل، اخلاص كول ، يقين ، محبت كول او د نيک كارونو ارادى لرل دى ، او د اندامونو عمل حكمونه اداكول دى ، او د ګناهونو نه منع كيدل دى ، قرآن كريم او سنت نبوي پدى خبره ګواهى كوى چى ايمان دپاره څه اصول دى چې هغه ايمان په الله پاک باندي، په ملائكو د هغه، په كتابونو د هغه، په رسولانو دهغه، په ورځ روستنۍ باندي اوپه تقدير د خير او شر باندي ايمان لرل دى ، الله پاک فرمائى:«آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللّهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ».[البقره: ٢٨٥]. ترجمه :ايمان راوړيدي رسول ﷺ په هغه څه چي نازل كړي شويدى دى د ته د طرفه درب دده نه ، اومؤمنانو هم، هريو ايمان راوړى دى په الله پاک او په ملائكو دهغه او **په** كتابونو د هغه اوپه رسولانو دهغه، (وائي دوى) جدائي نه كوو مونږ (په ايمان راوړلو كښې) په مينځ د هيڅ يو تن د رسولانونه ، او وائى دوى واوريدلو مونږ او تابعدارى كوو مونږ، غواړو بخنه ستانه اے ربه څمونږ! او تاته دى دركرځيدل د ټولو ، اوپه حديث د مسلم كښې د عمررضى الله عنه نه نقل دى ، جبريل عليه السلام د نبى كريم ﷺ نه د ايمان **په** باره كښې تپوس وكړو ، نبى كريمﷺ وفرمايلي دى: «أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكِتَابِهِ، وَلِقَائِهِ، وَرُسُلِهِ، وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ كُلِّهِ» (مسلم :٨ ) ترجمه: ايمان دادى چى ته ايمان راوړى په الله باندى، او په ملائكود هغه ، په كتابونو د هغه ، او په ملاقات دالله تعالى باندي، او د هغه په رسولانو، او ايمانراوړى په دوباره راپورته كيدلو باندى، او ايمان راوړى په ټول تقدير باندى، دا د صحيح عقيدى شپږ اصول او بنيادي كارونه دى چى الله پاک **په** قرآن كريم كښې بيان كړى دى او پدى عقيده باندى نبى كريمﷺ راليږلى شوى **دى**، ديته اركان د ايمان ووئيلى شى.